مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست ۲۰۲۴/۰۴/۲۳

# د پوهنتون خاطرې

## (۴)




زه په هریپور کې له يوې تنظيمي ليسې فارغ شوم او پوهنتون مو په جلوزو کې و چې د يوه بل تنظيم مربوط و. دې تنظيم پراخه سينه درلوده. دا تنظيم، هغه له وچ نير(نهر) څخه د اخوا تنظيم په څير نه و چې تحت نفوذ ساحه کې يې يوازې د خپل تنظيم خلکو ازاد تنفس کولای شو. که چاته حال نه وايئ؛ نو زه هم د همدې تنظيم له ليسې فارغ وم.
د پوهنتون والا تنظيم مربوطه ساحه کې بيا د هر فکر او ګوند خلک ول. پوهنتون يې هم همداسې د هر تنظيم او غير تنظيمي خلکو لپاره و؛ خو بيا يې هم ځينې قيودات لرل.
له هريپوره تر جلوزو شاوخوا ۱۵۰ کيلومتره واټن دی. چې پوهنتون ته راغلم نو د ليليې په لټه کې شوم؛ خو د ليليې دروازه پرته له قيد او شرطه د هر چا لپاره پرانيستې نه وه .
که څه هم ما ټول ښوونځی د مهاجرو په کيمپ کې لوستی و او ټول تنظيمونه تر همدې يوې فضاء (مهاجرت) لاندې اوسيدل، ټولو ظاهرا د يوه هدف لپاره کار کاوه؛ خو يو پر بل باور کولو سر خوړلی و. حتا يو د بل مسلمانۍ ته هم د شک په سترګه کتلې. د ليليې لپاره زما مسلماني د کمپيوټر په اصطلاح ويريفيکيشن (verification) ته اړتيا درلوده. يو څوک بايد وای چې زما مسلماني يې تاييد کړې وای او بيا د ليليې مستحق ګڼل شوی وای .د خپلې مسلمانۍ تاييدۍ پسې په اوداسه لالهانده ګرځيدم او د حضرت انس ابن مالک رض څخه روايت شوی يو حديث مې په ذهن کې تاويده را تاويده :
عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ (رض) قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله (ص): مَنْ صَلَّى صَلاتَنَا، وَاسْتَقْبَلَ قِبْلَتَنَا، وَأَكَلَ ذَبِيحَتَنَا، فَذَلِكَ الْمُسْلِمُ
ژباړه: د مالک زوی انس رض وايي چې رسول الله ص فرمايلي: چا چې زموږ لمونځ وکړ، زموږ قبلې ته يې مخ کړ، زموږ حلاله يې وخوړله؛ نو دا مسلمان دی .
ځان سره مې ويل: ښه، زه خو هم همداسې لمونځ کوم، همدې يوې قبلې ته ور سره دريږم، يوازې د هغه خاروي غوښه خورم چې د الله ج په نوم ذبح شوی وي؛ نو بيا مې ولې د مسلمانۍ تاييدۍ ته اړتيا محسوسيږي؟
د ډاکټر نجيب په يوه خبره خندا راغله، هغه په يوه ويډيوي وينا کې ويلي و : که مسلماني په خوله وي نو نجيب په ښکاره وايي چې: لا اله الا الله محمد رسول الله او که په زړه وي؛ نو د زړونو مالک خو بل څوک دی.
ما ويل و ساده ګله! موږ چې ور سره د هجرت په ګډه فضاء کې سرې تودې وګاللې؛ څوک را باندې سم يقين نه کوي، په تا به ښه يقين وکړي.
په هر صورت، اخر مې مسلماني د ښاغلي استاد مزمل اسلامي له خوا، چې د مشر ورور مې ملګری و، په ليکلې بڼه تاييد شوه. هغه بيچاره د دې لپاره چې څوک يې دا ستره دعوه بې ځايه ونه ګڼي؛ د خپلې تاييدۍ لاندې يې د سورت يوسف دا مبارک آيت شريف د ضمانت په توګه وليکه: "... اللَّهُ عَلَى مَا نَقُولُ وَكِيلٌ"
له دې وروسته د ليليې مستحق شوم او د يوه اوږده بلاک د اخري اتاق د لومړي دوه منزله چپرکټ په لومړي منزل کې مې توشکه هواره کړه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په خير و لولئ